آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۶/۲۶

# «د رازونـــو خـــزانـــه وم،
# خـــزانـــه یـــم لا تـــر اوســه»

## خوشال پوهنه

## اشعار

## ۱۷

زه چې د خوشال د اشعارو د مطالعې په وخت کې، د خوشال طرز دید ته پام کوم او بیا د شعر د شکل او جوړښت د قوانینو پر اساس دې ته فکر کوم چې خوشال د خپل طرز دید یا فکر د لیږدولو له پاره څنګه شکل یا قالب یا توري انتخابول او بیا یې په څومره مهارت سره هغه په استادانه ډول داسې کارول چې انسان فکر کوي چې ده به پرته له مطالعې، لیکلو، شعر او شاعرۍ نه بل کار نه درلود، مګر هغه څوک چې د خوشال د شخصیت د ټولو اړخونو په باب، که په تمامه مانا نه، بلکې نسبي مطالعه هم ولري، په دې پوهیږي چې خوشال پرته له قلم، توره هم چلوله، د فکر، مشرۍ، جرګو مرکو سرې هم و او په هره برخه کې داسې کار کاوه چې په هره برخه کې آثار هم ور نه پاتې دي.
ده په هره برخه کې داسې کار کاوه چې سړی فکر کوي دی یوازې د همدې برخې پر مخ بیولو ته ناست دی.
د دې تر څنګه زه بیا استاد بهاالدین ته هم حیران یم چې خوشال یې دومره لوستی و چې په دې پوهیده، د څه په باب، خوشال څه ویلي دي.د همدې له پاره به یې له مازې چې څه ولیکل، بیا پوهیده چې د خوشال د شاعرۍ له کوم ځای نه باید اقتباس وکړي.
د خوشال لاندې څو بیتونه یې د «ځانځاني ښامار» د «دویم څرخ، یو ځل بیا راستون ښامار شو» په پیل کې راوړي دي:

**زه هـم چیرې فـرزانـه وم، فرزانــه یـم لا تــر اوسه**
**تـل بـېـخـوده دیـوانـه وم، دیـوانـه یــم لا تــر اوسه**

**جـدایي نـه شـتـه وصـال دی، ځـینې بـعـد هم خیال دی**
**له هغه چې هـمـخـانه وم، هـمـخـانـه یم لا تــر اوسه**

**چې راغـلـی پـه جهان یم، خـبـر شوی پـه خپل ځان یم**
**د رازونــو خــزانـــه وم، خــزانـــه یـم لا تـر اوسه**

**پــه عـالم زمـا خــبـرې، خـلـک کـل پـه نـړدې لـري**
**پـه وګـړي افـسـانـه وم، افـسـانـه یـــم لا تــر اوسه**

د خوشال شعرونو او د استاد مجروح را اخیستنې ته چې سړی ګوري، ور ته حیران شي چې څنګه یو بل درک کولای شي. دا هم د خوشال بشپړ هغه شعر چې مجروح صاحب پاسنې بیتونه د «ځانځاني ښامار» له پاره را انتخاب کړي دي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**زه هم چیرې فرزانه وم، فرزانه یم لا تر اوسه**
**تل بېخوده دیوانه وم، دیوانه یم لا تر اوسه**

**جدایي نه شته وصال دی، ځینې بعد هم خیال دی**
**له هغه چې همخانه وم، همخانه یم لا تر اوسه**

**چې راغلی په جهان یم، خبر شوی په خپل ځان یم**
**د رازونو خزانه وم، خزانه یم لا تر اوسه**

**په عالم زما خبرې، خلک کل په نږدې لرې**
**په وګړې افسانه وم، افسانه یم لا تر اوسه**

**چې د مخ پلو یې وا شو، یو مشال و چې نما شو**
**هغه دم پرې پروانه وم، پروانه یم لا تر اوسه**

**ناوکي یې د مژګان دي، چې بلا زما د ځان دي**
**ورته عمر نښانه وم، نښانه یم لا تر اوسه**

**چې یې ځان سره آشنا کړم، له هر چا یې شا په شا کړم**
**له عالمه بیګانه وم، بیګانه یم لا تر اوسه**

**هغه بحر چې محیط دی،په اِفراط او په تفریط دی**
**د، غه بحر دُر دانه وم، دُر دانه یم لا تر اوسه**

**هغه شان له خپله یاره، بې وکیله بې ریباره**
**زه خوشال چې یګانه وم، یګانه یم لا تر اوسه**

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواڼي اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۱۴۳ ام مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ